# بندي مرغه



ليکوال: داکتر معمار حشمت الله اتمر

پيخليک: وږی / کال ۴۰۶ لېږدي

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library



## ليکي پوهه:

**سرليک:** بندي مرغه

**ليکوال:** ډاکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**اېډېټور:**

**د پښتنی ډيزان:** ډاکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**خپرندوی:**

**چاپشمېر:** ۳۰

**چاپ نېټه:** مياشت – وږی / کال ۱۴۰۶

**واټس اپ:** ۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸+

**برېښناليک:**

atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له ليکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د ګټې اخيستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه
...............

# لړلیک

**سرلیک** **چوپړی**


**پخښنتی........................................................................... ۱**
**بسم الله الرحمن الرحيم ............................................................ ۲**
**لیکي پوهه:....................................................................... ۳**
**لړلیک ........................................................................... ٤**
**تراڼ (پیل، شروع، برید)............................................................ ٥**
**د یادښتونو له پاره:................................................................ ۷**
**کیسه، داستان یا ناول: ............................................................ ۸**
**د چاپ شویو کتابونو لېست.......................................................... ٥۳**
**د کار لاندې کتابونو لېست ......................................................... ٥۸**
**د امکان او وخت په صورت کې...................................................... ٥۹**
**د پخښنتی څټ ...................................................................... ٦۰**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه

...............

## تراڼ (پیل، شروع، برید)

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلّا اللَّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِه .

بې پايه ستاينه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاينات يې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقيقت له پېژندلو پرته جوړ کړل. هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پيدايښت يوه حتمي لامل دی. عظمت، د ټولې نړۍ موجوديت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسيدو جوهر په يوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ يوه له لوړو وسيلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**
دا ځل مې و غوښتل د کوشنيانو(کوچنيانو)، تنکيو ځوا نانو له پاره ښکلی داستان (کيسه، يا ناول) وليکم او د خپلو کتابونو مينه والو او لوستونکو سره يې ګډ (شريکه) کړم.

زما د کتابونو مينه وال يوازې معماران او انجينران نه دي، نه بايد اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو ليکونو کې توپير راوړم چې د هرې ځانګې مينه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړي چې ليکنې مې توپير و لري او هم به مې مينه وال ډېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه
...............

**پاکه ربه!**
زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وینو او نه يې پېژنو. زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دین له سپيڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

**يادونه:**

- د نظر ټولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هيله کيږي چې، خپلې غوښتنې او وړانديزونه د دې کتاب د بيا کتنې له پاره، زما سره ګډ (شريکه) کړئ.
- انځورونه د ګوګل سايټ نه د داستان مطابق اخيستل شوي دي.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸

په در نښت
ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه
...............

## د يادښتونو له پاره:

۱- ...................................................................

۲- ...................................................................

۳- ...................................................................

۴- ...................................................................

۵- ...................................................................

۶- ..................................................................

۷- ..................................................................

۸- ..................................................................

۹- ..................................................................

۱۰- ................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه
...............

**کيسه، داستان يا ناول:**

جمعه دين اکا په کڅ کې ژوند کوه.

کڅ ډېر ښکلی او شين و.

هرې خوا راز، راز شنې ونې ښکارېدې.

يوه خوا يې ښکلي او چت غرونه او بلې خوا يې سين(سيند يا درياب) و.

کڅ کې ميوې لرونکې ونې هم پرېمانه وې.

البته په راز، راز مرغۍ راتلې بيا به د هغه ځای نه نورو سيمو ته کډه کوه.

د جمعه دين درې ځامن وو.

هغه لور نه درلوده.

مشر زامنو به يې کار کوه او د ټولو نه کشر يې د کار سره مينه نه درلوده.

د کشر زوی نوم يې تورګل و.

تورګل به کله ناکله د خپل پلار او ورونو سره مرسته کوه.

د هغه مينه د دام کېښولو او مرغيو ښکار سره وه.

هغه به دامونه او پټکې جوړوې او غولکه يې هم درلوده.

هغوی کومه خپله ځمکه نه درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه

...............

هغوی به د کلي خان ځمکه کره او د هغه پورې اړوند بزګر کور کې اوسېده.

د هغوی کور یوه لویه کوټه درلوده چې په یوې خوا کې یې غوجل کوم کې چې غواګانې، خره تړل کېدل او بلې خوا کې به هغوی ژوند کوه.

د کوټې مساحت اته ویشت متره مربع وه چې سور یې څلور متره او اوږدوالی یې اوه متره وو.

په غوجلې کې آخور(وابښه خور یا کاه خور) شتون درلود.

کو ټې یوه د لرګې دروازه درلوده او یوه کوشنۍ کړکې د روښنایي او د هوا د تبادلې له پاره.

د دروازې سور(بر یا غرض) یې اتیا سانتي او اوچت والی یې هم یو مترو پنځوس سانتي و.

دروازې دوې پلې درلودې کومې چې هرې پلې سور یې څلوېښت سانتي وې.

یوې دروازې زنځیر درلود او بلې یې پوزه (ببنیچه).

کړکۍ خورا کوشنۍ یانې (یعنې) پنځوس سانتي په پنځوس سانتي کې وه.

کړکۍ یوازې چوکاټ درلود او کومه د خلاصېدو پله (پانه) او شیشه یې نه درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه
...............

په ژمي کې به يې ورته پلاستيک ټکواهه او پسرلي کې به يې بېرته لرې کوه.

بام يې خټين او يوه موری يې درلوده.

موری هم د نغرې د پاسه وه چې دود ترې د باندې و وځي.

بام ته هم يوه خټېنه زينه وه چې هېڅ راز کټارې يې نه درلودې.

د باران په ورځو کې به ختل او پورته کېدل خورا ګران (دروند، سخت) وو.

بام د باندې خوا نه، يوه لرګي ناوه درلوده.

د کوټې مخې ته يوه غټه د توت ونه هم وه چې توتان يې بې دانه وو.

جمعه دين په ونې کې خپلو زامنو ته، ټال اچولي و.

ټال ته به د کلي نور ماشومان هم راتلل او ټال به يې خوړه.

ونه ډېره اوچته وه.

راز، راز مرغان به په ونې کې کښېناستل.

ماښام به د چونچونو او شارو ګانو شورما شور وو.

تورګل به د شپې له خوا په غولکې ښکار کوه.

د هغوی او نورو ګاونډيانو چرګان او چرګې به هم ونې ته ختې او ځانګو کې به کښېناستې.

شپه به يې تېروه او ملا آذان سره به بېرته کښته کېدي او شاوخوا به ګرزېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه

...............

د ونې لاندې یوه کوشنۍ برنده (سوپه، صوفه) وه.

جمعه دین به کله ناکله پر برنډې بیده کېده.

ځینې وختونه به الته ښځې ټولېدې او غورې به یې کوې.

وختونه تېرېدل او تورګل هم لوېده.

د پسرلې ورځې وې.

تورګل له خوبه وختې پاڅېد.

دام او پټکې یې له ځانه سره واخیستې.

دام یې پر ځمکې کېښود.

پټکې یې د ونو په څانګو کې کېښودې.

مرغۍ، ډېرې لږې وې.

څه وخت تېر شو.

لمر را وخوت.

اوا(هوا) توده(ګرمه) شوه.

هغه وږی شو.

دام او پټکې یې الته پرېښودې او خپله کورته لاړ.

مور یې تود جواری په تبۍ پوخ کړی او شین چای هم تیار و.

هغه کوټې ته ننوت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه

...............

سلام يې واچوه.

مور يې د هغه سلام ته وعليکم و ويل.

بيا تورګل د نغري سره نږدې کښېناست.

پر نيمڅي يې پلتۍ و وه.

مور يې دسترخوان هغه ته نږدې کړ.

تود جوارى يې پرې کېښود.

بيا يې په پياله کې، چاى واچوه او هغه ته يې نږدې کړ.

بوره نه وه.

هغې مسين کنداني (قنداني) چې په کې توره ګوړه (ګړه) وه، هم تورګل ته نږدې کړه.

هغه د کنداني سر خلاص او يوه کوشنۍ چکۍ ګوړه يې ترې واخيسته.

بيا هغه يې په ډبرې ماته څه يې په جب او نوره يې د چاى او ډودۍ سره وخوړه.

خبټه يې مړه او شکر يې و وېست.

بيا له ځايه پاڅېد (اوچت) شو.

خپل واسکټ يې له ځانه و باسه او د کوټې په مېخ کې يې زوړند کړ.

تاخچې ته لاړ او غولکه يې واخيسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه

...............

هغه يې په غاړه کې واچوه.

بيا يې خټو نه جوړشوي ګاټي هم واخيستل اوپه جبونو کې يې واچول.

په کوټې کې وګرځېد.

بيا د باندې شو او د کلا دروازې ته، لاړ.

دروازې نه و وت او د دام او پټکو خوا، روان شو.

الته نږدې شو.

پټکې کې يوه مرغۍ بنده شوې وه.

هغه منډې کړې او پټکې ته يې ځان ورساوه.

په پټکې کې يوه ښکلې مرغۍ بنده شوې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه

...............



د مرغۍ نوم آدم چهره او ډېر ښکلی رنګ یې درلود.

تورګل پټکه له ونې واخیسته او پر ځمکې کښېناست.

مرغۍ یې په کیڼ لاس و نیوه او غوښتل یې چې پر ښی (راسته) لاس یې خلاصه کړي.

مرغۍ د تورګل په لاس باندې، خوله ولګوه.

خو تورګل هغه خوشې نه کړ.

بیا د پټکې یې خلاصه کړه او په لاس کې یې ټینګه و نیوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه

...............

مرغۍ به د تورګل پر لاس خوله لوګه تر څو يې خوشې کړي مګر تورګل هغه خوشې نه کړه او کور ته يې ورسوله.

په ونه کې يې کپس زوړند و کوم چې مرغه يې مردار شوي و.

تورګل کپس را کښته او مرغۍ يې په کې بنده کړه.

بيا يې څه شولې په کوچني لوښي کې واچوې او کپس ته يې د ننه او يوې خوا کې يې کېښودې.

بيا يې جام راوخيست او د منګي نه يې اوبه واخيستې او هغه ته يې په اوبوخورکې (اوخورکې) کې واچوې.

بيا يې کپس د ونې په څانګې کې بند کړ.

څو ځل يې د کپس شاوخوا وکتل چې کوم لرګی يې مات نه وې او هغه د کپس نه، و نه وځي.

کپس جوړ وه.

بيا هغه ورو، ورو بېرته لاړ.

د کلي نه د باندې او پټو ته لاړ.

دامونو ته يې وکتل.

څو مرغي په کې بندې وې.

يوه، يوه به يې خلاصوه او پر چاکو به يې حلاله وه.

بيا به يې بال پيچه کوي او د پولې تر شا (څټ) به يې ايښودې.

تر غرمې يې ګزمې و کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه

...............

د نورو خواوو نه به مرغۍ شرېږې او دامونو خوا ته يې لېږي.

غرمه شوه.

اوا هم توده شوه.

مرغۍ د سيمې و تېښتېدې.

لرې سيموته لاړې.

تورګل هم دام ټول کړ.

هغه يې په آچې (دوې شاخه لرګی د غولکې په شان) واچوه.

پټکې يې هم د ونو د څانګو نه خلاصې کړې، تر څو نور څوک يې وې نه سي.

بيا يې مرغۍ هم په لاس کې و نيوې او کلي خوا روان شو.

کلي ته ورسېد.

د ننه شو او خپلې کوټې ته لاړ.

کور کې څوک نه وو.

مور يې په بلې برنډې ډوډۍ پخوې.

پلار او ورونه يې په کروندو کې، کار کاوه.

دام او پټکې يې پر برنډې کېښودې او خپله کوټې ته د ننه شو.

هغه، مرغۍ کوټې ته د ننه کړې تر څو پيښنو يې و نه خوري.

هغه يې په تاخچې کې کېښودې او پر سر يې خپل څادر واچوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه

...............

بیا بېرته برنډې ته راغی.

کېناست.

دام یې په اصولو سره ټول کړ.

بیا یې د پټکو سره د کوټې په تاخچې کې کېښود.

آچه یې هم د کوټې په لرګي میخ کې زوړند کړ.

هغه بیا برنډې ته لاړ او کېناست.

د مرغۍ په ننداره شو.

هغې لږې شولې و خوړې او د کپس د ننه په څانګې کېناسته.

شاو خوا یې کتل او غوښتل یې چې له کپسه و وځي.

هغه تاوه را تاوېده او سوری یې لټاوه.

کپس ډېر کلک و.

د وتو لاره نه وه.

مرغۍ هم ډېره چابکه او هوښیاره وه.

یوه ورځ چې تورګل غوښتل هغه ته دانه او اوبه واچوي، هغې ځان غلی و نیوه او د کپس په کونج کې، کېناسته.

تورګل هغه ولیده او سوچ کوه چې هغه ناروغه ده.

بیا کپس ته نږدې شو.

کپس یې وخوزاوه، هغې ځان په ټګۍ وهلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تورګل ډېرخواشینی شو.

کپس یې له ونې ښکته کړ.

هغه یې برنډې ته، یو وړ.

بیا یې و ویل:

**هی، هی!**

افسوس چې شکلې مرغۍ هم ناروغه شوه.

بیا یې کپس منځ ته و کتل.

دانه او اوبه یې هم درلودل.

بیا یې زیاته کړه.

دانه او اوبه هم لري.

کېدای شي ډېر خفه شوې او یا ګرمۍ وهلې وي.

بیا یې کپس ځانته نږدې کړ.

د کپس دروازه یې خلاصه کړه.

مرغې یې د کپس نه و باسه او د کپس پر سر یې کښېناوه.

مرغۍ خپلې سترګې پټې او خلاصې کوې.

کله به ونې او کله به یې تورګل ته کتې.

هغه د وخت په انتظار وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه

...............

په دې وخت کې مور يې ورته غږ کړ.

تورګل و ويل څه وايې؟

هغې و ويل:

کوټې ته راشه او د غنمو بورۍ او چټه او پر ګړمچې يې کېږده تر څو موږکان يې سورۍ نه کړي.

هغه و ويل:

سمه ده!

بيا کوټې ته د ننه شو.

ژر يې بورۍ اوچټه او پر ګړمچې يې کېښوده.

بيا د باندې شو.

ژر يې کپس ته نظر واچوه.

مرغۍ نه وه.

هک پک شو.

بيا د کپس شاو خوا يې و کتل، څه نه په سترګو کېدل.

ونې ته يې نظر واچوه.

په ونې کې هم نه مالومېده.

بيا يې سوچ وکړ.

له ځانه سره يې و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه

...............

کېدای شي کومې پيشو نيولې او خوړلې يې وي.

بيا بام ته وخوت.

شاوخوا يې وکتل.

څه نه پر سترګو کېدل.

کومه پيشو او يا سپی هم نه ښکاره کېده.

بيا ونې ته يې و کتل.

څو چونچونې ناستې وې او د هغه په ليدو سره له ونې واو لوتې.

تورګل بېرته کوز شو.

کپس يې واخيست او په ونې کې يې زوړند کړ.

دانې او اوبو سره يې غرض و نه کړ.

دروازه يې هم خلاصه پرېښوده.

بيا غولکه يې واخيسته او د کور نه د باندې شو.

دېرې (باغچې) ته لاړ.

البته الکان (هلکان) او د هغه همزولي هم وو.

هغوی ته يې د مرغه کيسه وکړه.

هغوی هم خپه شوو.

بيا يوه الک (هلک) هغه ته و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه
...............

سوچ مه کوه!

ته دامنونه او پټکې لرې.

ژر به بله مرغۍ ونیسې.

هغه و ویل:

مرغۍ  به ډېرې وي.

خو!

د هغې مرغۍ په شان به، نه وي.

بیا د هغوی نه جلا او دېرې ته لاړ.

البته ونې ډېرې وې.

څه ګاټي یې ټول کړل.

هغه یې په جبونو کې واچول.

بیا یې غولکه له غاړې خلاصه کړه.

ګاټی یې په کې کېښود.

په یوه لاس یې غولکه او په بل لاس کې یې د غولکې کاسه ونیوه.

وړاندې ته او ونو ته یې کاته.

مرغۍ هېڅ نه وې.

تر ماښامه وګرځېد اوهېڅ ټک یې و نه کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه

...............

اوا (هوا) تیاره شوه.

د مرغیو او شاروګانو آوازونه پیل شوو.

هغوی د کلي په اوچتو، اوچتو څانګو کې ناست وو.

ښکلې نغمې او آوازونه یې کول.

تورګل هم ډېر ستړی شوی و.

ډېر ګرځېدلي او هېڅ ناست نه و.

خلک ټول د هرې خواو نه کورونو ته، تلل.

تورګل هم خپله غولکه په غاړې کړه.

جبونو کې یې ګاټي وو.

هغه ډېر درانه وو.

تورګل د ګاټو سره عادت شوی و.

هغه هم د نورو کسانو په شان کورته لاړ.

کوټې ته ننوت.

ګاټي یې له جبه و وېستل او په تاخچې کې یې کېښودل.

بیا یې غولکه له غاړې خلاصه کړه.

هغه یې هم د ګاټو په سر کېښوده.

کوټه تیاره وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاخچې ته لاړ.

الکين يې را واخيست.

هغه يې وخوزاوه.

الکين، تيل درلودل.

بيا يې اور لګيد واخيست او هغه يې روښانه کړ.

مور يې د خان کور کې په پخلي بوخته وه.

پلار او ورونه يې هم نه وه راغلي.

څو دکيکې تېرې شوې.

پلا او دوې ورونه يې هم ورسېدل.

تورګل هغوی ته ستړي مه شئ و ويل.

هغوی هم ورته و ويل:

لوی شئ.

تورګل ګړمچې ته نږدې او هغه ته يې تکيه وکړه.

څه وخت تېر او مور يې هم ورسېده.

د شپې ډوډۍ تياره (آماده) وه.

هغې د شوتلې (شفتلې) سابه پاخه کړې و.

جواري هم تاوده وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تازه يې د تناره نه وېستلي وو.

بيا يې دستر خوان اوار(هوار) کړ.

تورگل د لاس اوبه راوړې.

لمړی يې پلار، بيا يې ورونه ته واچوې.

بيا يې خپل لاسونه پرېمنځل.

دستر خوان ته کېناستل.

پر خوړو يې پيل کړ.

ډوډۍ و خوړل شوه.

بيا مور يې چای راوړ.

چای هم و څښل شوو.

بيا مور يې تورگل ته و ويل:

ولې نن خپه يې؟

هغه و ويل:

مرغۍ ناروغه وه.

ما د کېپس نه و باسه او هغه پر سر مې کېناوه.

تا غږ کړ.

زه کوټې ته راغلم او بورۍ مې په گړمچي کېښوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بندي مرغه

...............

ژر بېرته را و وتم.

جای وه، جولا نه وه.

مرغۍ ورکه شوې وه.

پوې نه شوم چې څه شوه.

مور یې و ویل:

هغه به اولوتې وي.

تورګل و ویل:

نه!

ته څه وایې؟

هغه ناروغه وه.

اولوتی نه شوه.

هغې و ویل:

سوچ مه کوه.

ونې ته ښې، ښې او ښکلې مرغۍ را ځي.

مرغۍ په آزاد ژوند خوشحاله وي.

تا  هغه په کپس کې بندي کړې وه.

که انسان هم بندي شی، زړه به یې پړک وچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه
...............

بیا هغه خوارکۍ، مرغۍ.
هغې به هګۍ درلودې.
کېدای شي بچیان یې درلودل.
تا ونیوه او په کپس کې دې بندي کړه.
نور داسې کار مه کوه!
هو!
بله خبره مې په یاد شوه.
هغه داچې:
اوس د پسرلي وخت دی.
په دې وخت کې، ټول مرغان هګې اچوي بیا هګۍ بچیان کېږي.
یوه څو میاشتې ښکار مه کوه!
ډېر وبال (ډېره ګناه) لري.
پرېږده چې د مرغیو نسل ډېر شي.
تورګل و ویل:
مرغۍ څه وبال لري؟
په دې وخت کې پلار یې په غصه شو او ویې ویل:
مور دې رېښتیا وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې وخت کې ښکار ډېره ګناه لري.

مشر ورو یې هم و ویل:

ما هم د ماجت له ملا امام نه اورېدلي چې د پسرلی او مني وخت کې نه یوازې ښکار اوبال (ګناه) لري، بلکه هګیو خوړل یې هم غټ اوبال (ګناه) لري.

بیا تورګل و ویل:

لکه چې ټولو سره لاس یوه کړی دی.

بیا مور یې و ویل:

مونږ ټول رېښتیا وایو.

بیا یې زیاته کړه.

روسته له ننه، زه خو د ښکار غوښه نه پخوم.

تورګل و ویل:

سمه ده!

که سر له سبا ښکار پرېږدم، څه به وکړم؟

پلار یې و ویل:

زمونږ سره به کروندو کې کار وکړئ.

کار به زده کړې.

په ځوانۍ کې به دې، په کار شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه
...............

هغه و ويل :

سمه ده!

په خبرو اترو شپه پخه شوه.

پلار يې و ويل:

راځئ چې شپه جوړه او بيده شوو.

سبا به وختي پا ځيږو اودس، لمونځ نه وروسته كروندو ته به لاړ شوو.

كار به وكړو.

بيا به تورګل مونږ ته سهار چاى راوړي او كار به پيل كړي.

ټولو و ويل:

سمه ده!

اوس به بيدو شوو.

ټول بيده شوو.

سهار شو.

د پلان سره سم، كارونه پيل شوو.

تورګل بيده و.

لمر و خوت.

مورې هغه پاڅاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه
...............

هغه د کلي ويالې (بيالي) ته لاړ.

خپل مخ او لاس يې پرېمنځل.

بيا بېرته، کوټې ته راغی.

مور يې چای دم کړی و.

جواری يې په دستر خوان کې تاو کړی و.

چايجوش او دستر خوان يې تورګل ته، په لاس ورکړ.

بيا يوه چکۍ ګوړه (ګړه) يې هم هغه ته په جب کې کېښوده.

بيا يې څلور پيالې په کڅوړې کې کېښودې او هغه ته يې په بل لاس کې ورکړې.

بيا يې هغه ته و ويل:

ټول به، پټې ته يوسه!

پښو ته دې ګوره چې و نه لوېږې.

که نه ،هم به ځان ژوبل کړې هم به چای چپه کړې.

کېدای شي ټولې پيالې ماتې کړې.

هغه و ويل:

سمه ده!

سوچ مه کوه!

اوس لږ غټ شوی يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور يې و ويل:

سمه ده!

نامې خدا!

خدای دې له بدو سترګو و ساته!

بيا تورګل، روان شو.

د کلا نه، و وت.

بيا بر(بره، پاس) پټې ته لاړ.

چای يې التـه ورساوه.

بيا يې سلام واچوه.

پلار يې، هغه سلام ته، وعليکم و ويل.

بيا يې هغه ته و ويل:

چای د لوې پولې پر سر کېږده!

په پيالو کې يې چای واچوه!

دادی مونږ هم درځو.

هغه د پولې په سره دسترخوان اوار کړ.

پيالې يې په دستر خوان کې، کېښودې.

بيا يې پيالې هم پر دستر خوان کېښودې او له چای نه يې ډکې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه
...............

ټول دستر خوان ته راغلل.

پلار يې و ويل:

لاړ شه ګوړه هم راوړه!

هغه و ويل:

ګوړه مې هم راوړي او په جب کې مې ده.

بيا يې جب ته لاس کړ او ګوړه يې راوباسه او پر دستر خوان يې کېښوده.

پلار يې ګوړه واخيسته او په لاسونو يې ماته او بېرته يې پر دسترخوان کېښوده.

بيا ټولو د چای په څښلو پيل کړ.

تورګل هم الته چای وڅښه.

پيا لې يې ټولې او په دستر خوان کې يې کېښودې.

چايجوش يې هم په لاس کې ونيو او کور خوا روان شو.

په لاره کې به ته او ونو څانګو ته به يې کتل.

د ونې په يوې څانګه کې يې، ښکلې مرغۍ وليده.

هغه شنه او سينه يې سپينه وه.

تر ونې لاندې ودرېد.

د مرغۍ په ننداره شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه

...............

مرغۍ، تورګل ته یې پام نه وه.

هغې څه ویل او د بوې ځانګې نه بلې ته الوته.

الته به یې څو دکېکې تېروی، بیا به بلې ته الوته.

کله به پټې ته کوزه، څه دانه به یې وخوړه، بیا به بېرته الوته او ونې ته، تله.

د تورګل مرغۍ ډېره خوښه شوه.

هغه د ځانه سره و ویل:

دا مرغۍ چې و نه نیسم، نه کېږي.

ژر، ژر چایجوش، پیالې او دسترخوان یې کورته ورساو.

الته د برنډې پر سر یې کېښودل.

بیا کوټې ته د ننه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه

...............



پټکې يې را واخيستې او په منډه د کلا نه و وت.

هغې ونې ته لاړ چېرې چې مرغۍ په کې ناسته وه.

مرغۍ نه ښکارېده.

بيا يې پټې ته و کتل.

الته هم نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه

...............

خورا خفه شو.

دېرې ته لاړ.

الته يې سترګې پر هماغې مرغۍ ولګېدې چې د هغه خوښه شوې وه.

بيا يې شاو خوا پټکې کېنوې.



(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه

...............

خپله یې د ونې ډډ ته پټ شو.

څو دکیکې لا نه وې تېرې شوې چې مرغۍ په پټکې کېناسته او پښه یې په لومې کې ونښته.

هر څه یې کوښښ وکړ چې ځان خلاص، مګر و نه توانېده.

په دې وخت کې د تورګل ورته پام شو.

منډه یې کړه.

هغه یې و نیوه او له پټکې یې خلاصه کړه.

په منډه، منډه کور ته لاړ.

هغه یې په کپس کې واچوه او دروازه یې ټینګه پورې کړه.

بیا یې د کپس اوبه او دانه وکته.

دانه وه، خو اوبه وچې شوې وې.

بیا یې کوزه واخیسته د منګي نه یې په کې اوبه واچوې او د کپس اوخوره یې ډکه کړه.

مرغۍ به کله یوه خوا منډه کړه او کله به یې بله خوا.

هغه ډېره وارخطا وه.

غوښتل یې ژر تر ژره د کپس نه و وزي.

هغې د ځانه سره څه و یل.

بیا تورګل مرغۍ الته پرېښوده او د کلي د باندې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه
...............

دېرې ته لاړ.

پټکې يې ټولې او بيا کورته يې وېوړې.

کوټې ته يې د ننه او بېرته يې په تاخچې کې کېښودې.

بيا برنډې ته لاړ.

الته پر اوار شوي پوزي کېناست.

دېوال ته يې ډډه وکړه.

مخ يې کېس ته و.

مرغۍ زورېده.

اخوا دېخوا په کېس کې الوته.

هغې به ويل:

خپل وطن – ګل وطن

تورګل ډېر خوشحاله شو او له ځانه سره يې و ويل:

څومره ښکلې مرغۍ ده.

څومره ژر په رېز راغله.

کېداى شي له چا نه خوشې شوې وي.

ځکه رېز کوي.

څو دکيکې تېرې شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور يې راغله.

تورګل هغې ته سلام واچو.

مور يې د هغه سلام ته وعليکم و ويل.

بيا هغه خپلې مور ته و ويل:

وګوره!

څه ښکلې مرغۍ ده.

مور يې و ويل:

چېرې ده؟

هغه و ويل:

په کپس کې ده.

هغې کپس ته وکتل او ويې ويل:

په رېښتيا ښکلې ده.

دا دې له کومه کړه؟

هغه و ويل:

دا مې په پټکې کې و نيوه.

هغې و ويل:

تا خو وعده کړې وه چې نورې مرِغۍ نه ښکاروم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه

...............

تورګل و ویل:

دا ډېره ښکلې وه، طاقت مې را نه غی، نو څکه مې و نیوه.

مرغۍ بیا په رېز پیل کړ او ویې ویل:

خپل وطن - ګل وطن

تورګل خپلې مور ته و ویل:

ګوره څه ښه رېز کوي (بدلي وايي).

بیا مور یې و ویل:

ته پوهېږې چې هغه څه وايي؟

هغه و ویل:

نه!

مور یې و ویل:

هغه وايي:

خپل وطن - ګل وطن

بیا تورګل و ویل:

ته څه پوه شوې؟

هغې و ویل:

زه لږ، لږ د مرغیو په خبرو پوهېږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه
...............

اوس وخت، د مرغانو د هګیو او بچیانو وخت دی.

دا خوشې کږه چې لاړه شي.

هغه و ویل:

نه!

دا ډېره ښکلې ده.

داسې مرغۍ ډېره لږه، پیدا کیږي.

بیا به یې له کومه و نیسم.

مور یې و ویل:

دا مرغۍ د همدې سیمې دي.

چېرته لرې نه ځي.

مور یې و ویل:

ښه به دا وي چې هغه خوشې کړې.

بیا هغه، خپل کار پسې لاړه.

تورګل هم د باندې او خپلو همزولو ته یې کیسه وکړه.

هغوی ټول د مرغۍ لیدو ته راغلل.

هر یوه به ویل:

څه ښکلې مرغۍ ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باید و ساتل شي.

ورځ تېره، بیا ماښام شو.

شپه ورسېده.

پلار او ورونه يې هم کورته راغلل.

تورګل هم له ډاره (وېرې) هغوی ته د مرغۍ په هکله څه و ونه ويل.

د مورې هم له یاده و واته، ځکه هغه ډېره ستړې شوې وه.

شپه شوه.

د شپې ډوډۍ د نورو شپو په شان وخوړل شوه.

بیا چای جوش او وخوړل شوو.

هریوه په خپلو ټاکل شويو ځایونو کې بیده شوو.

تورګل هم په خپل ځای کې، بیده شوو.

څو دکیکې تېرې شوې.

هغه خوب ولید چې مرغۍ غواړي هغه خپلې سیمې ته بوزي.

هغه ته خپلې هګۍ و ښيي چې له منځه به لاړې شي.

په خوب کې هغه ومنه چې مرغۍ خوشې کړي.

د کوټې نه د باندې شو.

کېس ته نږدې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه

...............

مرغۍ ویښه وه.

هغې ویل:

خپل وطن – ګل وطن

بیا بېرته کوټې ته ننوت.

پر خپل ځای بیده شو.

په خوب کې یې سهار شو.

له خوبه پاځېد.

کپس ته لاړ.

مرغې یې خوشې کړه.

مرغي د کپس نه و وته او پر څانګې کېناسته.

بیا هغه به لړ، لړ الوته او تورګل ته به یې کتل.

مرغۍ مخکې او تورګل ورپسې و.

ورو، ورو هغه خپلې سیمې ته ورسېده.

بیا تورګل و ویل:

ستا وطن همدا دی؟

هغې و ویل:

لږ نور هم وړاندې لاړ شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه
...............

بیا مرغۍ هغه ته و ویل:

دلته ودرېږه!

هغه ودرېد.

بیا مرغۍ پر یوې ځانګې چې د ویالې په منځ کې وه، کېناسته.

د اوبه څپه ډېره شوه.

ځانګه ورو، ورو اوبو لاندې کړه.

په دې وخت کې مرغۍ واو لوته.

څپه لاړه او ځانګه بیا اوچته شوه.

مرغۍ بیا په ځانګې کېناسته.

هغې به ویل:

خپل وطن – ګل وطن

تورګل و ویل:

دا ستا وطن دی.

هغې و ویل:

هو!

دا زما وطن دی.

بیا یې تورګل ته و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه
...............

راځه زما کور وګوره!

هغه وړاندې لاړ.

بيا مرغۍ واولوته او پر يوې څانګې کېناسته.

بيا يې هغه ته خپلې هګۍ وښودې.

هغه و منه.

هغې ته يې و ويل:

ښه شو چې ته مې، خوشې کړې.

که نه ستا هګۍ به خرابې شوې وې.

مرغۍ خوشحاله شوه.

اخوا دېخوا به الوته او تورګل به د هغې ننداره کوه.

بيا بېرته څانګې ته راغله، کومه چې به د اوبو په څپو کې ډوبېده او بېرته اوچتېده.

د تورګل هم د هغې وطن خوښ شو او هغې ته يې و ويل:

ته دلته اوسه چې خوشحاله يې.

زه به بېرته لاړ شم.

کله ناکله به ستا پوښتنې ته، راځم.

هغې ومنه.

په دې وخت کې هغه په اړخ واوښت او ويښ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه
...............



سهار شوی و.

اوا لږه روښانه شوې وه.

د ملايانو آذا نونه تر غوږو کېدل.

د کوټې نه د باندې شو.

ونې خوا لاړ.

کپس ته نږدې شو.

د کپس دروازه يې خلاصه کړه.

مرغی واولوته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه

...............



په الوتو کې يې هم ويل:

خپل وطن – ګل وطن

خپل وطن – ګل وطن

بيا  هغه هم چې لاره يې  په خوب کې ليدلې وه، روان شو.

د مرغۍ سيمې ته ورسېد.

بيا هماغه ځای ته لاړ، کوم چې مرغۍ به پر څانګې کېناسته او بېرته الوته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا د هغې د هګو ځای ته لاړ.

ویې لید چې ځالې پر سر بله مرغۍ ناسته او د هګیو حفاظت کوي.

په دې وخت کې هغه خوشې شوې مرغۍ راغله او دهغې بلې مرغۍ نه یې مننه وکړه.

بله مرغۍ واولوته او بلې خوا لاړه.

هغه مرغۍ بېرته پر خپلو هګیو کېناسته.

تورګل هم خپل کلي ته روان شو.



څه وخت تېر شو.

تورګل به کله ناکله د هګیو سیل ته، ته او نورو همزولو ته به یې څه نه ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه

...............

یوه ورځ لاړ چې د مرغۍ هګۍ وګوري.

یوه هګۍ ماته ښکارېده.

هغه خواشینی شو.

له ځانه سره یې و ویل:

دا به کوم بل مرغه ماته کړي او غوښتل یې چې هګۍ وخوري.

کېدای شي په دې وخت کې هغه مرغۍ راغلي او بله یې شړلې وي.

بیا لږ نږدې شو.

د هګۍ په منځ کې څه ښکارېدل.

هغه سور بخونی وه.

سر یې وړاندې کړل.

ویې لیدل چې په هغه کې د مرغۍ بچی دی.

هګیو سره یې غرض و نه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه

...............



بیا بېرته کور ته ستون شو.

سبا وختي بیا لاړ.

ویې کتل چې د مرغۍ بچي نیمایي له هګۍ وتی دی.

نورې هګۍ په خپل حال کې دي.

په دې وخت کې مرغۍ وچغېده او پر هګیو کېناسته.

تورګل هم بېرته خپل کور خوا ته، روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه

...............



دوې ورځې تېرې شوې.

د هغه زړه طاقت و نه کړ.

بیا الته لاړ.

ګوري چې دوې بچیان له هګۍ وتلي دي.

مرغۍ چېرې تللې وه.

څو دکیکې هغه، الته ولاړ و.

په دې وخت کې مرغۍ راغله او په خوله کې یې څه وو.

تورګل هم خپل سر نږدې کړ.

ګوري چې د مرغۍ په خوله کې چینجی دی.

هغه یې نیمایي کړ.

نیم یې یوه بچي او بل نیم یې بل بچي ته ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه
...............

بیا بېرته واولته او بیالې پلو(خوا) ته لاړه، تر څوبل چینجی راوړي.



څو ورځې تېرې شوې.

تورګل بیا الته لاړ.

ویې لیدل چې د ټولو هګیو نه بچي وتي دي.

مرغۍ ځي او راځې.

په خوله کې چینجیان او ملخ راوړي او بچیانو ته یې ورکوي.

بچیان هم ورځ تر بلې لویږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه

...............

په ځاله کې اخوا دېخوا ګرځي.

هغوی بېربېږي چې له ځالې و نه لوېږي.



تورګل  به کله نا کله الته ته.

د مرغۍ او د هغې د بچیانو سیل به یې کوه.

لس، پنځلس ورځې تېرې شوې.

د مرغیو بچیان په الوتو شوو.

تورګل بله ورځ الته لاړ.

ګوري چې ځاله شته او د مرغۍ بچیان اولوتې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه

...............

بیا د ویالې ځانګې ته لاړ.

الته یې و لیدل چې مرغۍ او بچیان یې پر ځانګې کښېني، کوم و خت چې ځانګه ډوبېدو ته نږدې شي، هغوی الوځي.

هغه څو دکیکې الته، د هغوی ننداره وکړه.

لمر دود شو.

هغه بېرته، کور ته ستون شو.

تېره شوې کیسه یې خپلې مور، پلار او ورونو ته بیان کړه.

پلار یې و ویل:

ښه دې وکړ، چې هغه دې خوشې کړه.

له یوې خوا هغه به په کپس کې مرداره شوې وه او له بلې خوا د هغې هګۍ به هم له منځه تللې وې.

که مونږ په بې رحمۍ سره مرغۍ ونیسو او ښکاریې کړو، د وخت په تېرېدو سره به ورو، ورو د هغوی نسل له منځه لاړ شي.

ما خو تا ته مخکې هم ویلي و.

چې په پسرلي او منې کې د مرغانو ښکار کول منعه دی.

ځکه چې هغوی د بچیانو وخت دی.

بیا هغه د خپل پلار، مور او ورونو نه، منه وکړه او هغوی ته یې ډاډ ورکړ چې په پسرلي او مني کې به، د مرغانو ښکار بند کړي.

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د چاپ شویو کتابونو لېست

۱. معماری افغانستان
۲. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری
(بخش شفاخانه ها)
۳. راهنمود طلايې
(برای اساتید انستیتوت های تخنیکې و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد اول
٥. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
۷. معماری اصیل شهر کابل (مرادخانی)
۸. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
۹. افغانستان در قرن تکنالوژی
۱۰. زونبندی اقلیم و زلزله افغانستان
۱۱. صدقه جاریه / دنیای انجینری
۱۲. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد اول (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۳. داستان حقیقی با مقیاس معماری
۱٤. فرار از کشور- با تصاویر مستند
۱٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
۱٦. پخسه در افغانستان
۱۷. بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آسترلیا
۱۸. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد دوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه

...............

۱۹. منار جام - الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲٥. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معمارۍ کې)
۲٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکې - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل (تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل
۳٥. مجنون او ګلچېن (پښتو ناول)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه
...............

(جلد اول)
۳۹. برف ها آب میشود
۴۰. رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد سوم
۴۱. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
۴۲. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
۴۳. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
۴۴. د اسلامي معمارۍ پیل
۴۵. حیوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
۴۶. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
۴۷. د شپېلۍ مینه (مه ینه) په کچه کړۍ کې (پښتو ناول)
۴۸. حشمت خان د کلا معماري
۴۹. د افغان الک او آذري جلۍ مینه (پښتو ناول)
۵۰. د وچو بنونه او پارکونو معماري
۵۱. د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې (پښتو ناول)
۵۲. د ژرنده ګرې ماما مینه (پښتو ناول)
۵۳. په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
۵۴. شپنه ادې (پښتو ناول)
۵۵. بې زده کړې پوی (پښتو ناول)
۵۶. د مینې تاو (پښتو ناول)
۵۷. (BIM) په خپله ژبه - په نړۍ کې تر ټولو نوې او ګړندۍ کړنلاره د معمارانو او اېنجینېرانو(انجینرانو) له پاره
۵۸. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد سوم)
۵۹. سیدو او عیدو - د کوشنیوالي خوارە ملګري (پښتو ناول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶۰. د يوې مياشتې ناوې (پښتو ناول)
۶۱. دخاخکو هار (د يوه سړی لنډې کيسې)
۶۲. د کابل ښار اصلي معماري (مراد خانی)
۶۳. کوشنۍ سوداګره (پښتو ناول)
۶۴. د کابل ښار معماري - بي بي مهرو
۶۵. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
۶۶. ډارونکی سیلاب ( پښتو ناول)
۶۷. خواريکښ قاضي (پښتو ناول)
۶۸. د پخوانيو جوماتونو توپير د نن سره
۶۹. د مور وژونکی (قاتل)، (پښتو ناول)
۷۰. د مور مېره (پښتو ناول)
۷۱. مجموعه از دروس دينی مولوي صاحب خيرالله مخدوم (جلد چهارم)
۷۲. لېونی ملا (پښتو ناول)
۷۳. ځوان شهيد (پښتو ناول)
۷۴. توده برستن (پښتو ناول)
۷۵. نورک اکا (پښتو ناول)
۷۶. غريبک (پښتو ناول)
۷۷. د ژوند خوږې او ترخې (پښتو ناول)
۷۸. الماء [ديارلس کلنه فلسطينی انجلی تر نړېدلي ودانی (پښتو ناول)]
۷۹. مجموعه از دروس دينی مولوي صاحب خيرالله مخدوم (جلد پنجم)
۸۰. ادبي لښتې / چوب ادبی
۸۱. د ښاروالی کاريګر (پښتو ناول)
۸۲. د خاورو لاندې ښار (د عينک مسو کان ته ښېرمه)
۸۳. شهری زير خاک (نزديک معدن مس عينک)

(c) ketabton.com: The Digital Library



٨٤. ساختمان های کانتینری
٨٥. کانتینري ودانۍ
٨٦. Architecture of Buddist temple in Kabul city
٨٧. ښکلې هوسۍ (پښتو کيسه)
٨٨. خړه بيزو(پښتو کيسه)
٨٩. سور تنور(پښتو ناول)
٩٠. سپين کارغه (پښتو داستان)
٩١. لېونۍ لېوه (پښتو داستان)
٩٢. بندي مرغه (پښتو داستان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه

...............

## د کار لاندې کتابونو لړست

۱. هنر خطاطی و میناتوری در مراد خانی
۲. هنر کلالی در مرادخانی
۳. بې وخته باران
۴. د ژوند پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي مرغه

...............

## د امکان او وخت په صورت کې

١. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
٢. تاریخ معماری افغانستان
٣. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
٧. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Captive Bird

**Written by: Architect PHD Hashmatullah Atmar**

**Date: September - October /2027**

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library